# قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ، لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ». «الله تعالی فرمایي: د بني آدم هر عمل د هغه لپاره دی پرته له روژې څخه چې هغه زما لپاره ده او زه پرې اجر ورکوم او روژه ډال دی او کله چې په تاسو کې د یو چا د روژې ورځ وي نو پوچې خبرې او په لوړ اواز دې بد رد نه وایي، که چېرته ورته چا کنځلې وکړې او یا یې ورسره شخړه کوله، نو ودې وایي چې زه روژه دار سړی یم، او قسم په هغه ذات چې د محمد صلی الله علیه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی چې د روژه دار انسان د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه پاکیزه دی، د روژه دار لپاره دوه خوښ دي چې خوشحاله کوي یې: کله چې روژه ماته کړي نو خوشحاله شي او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو په خپله روژه خوشحاله شي».

[صحیح] - [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې الله جل جلاله په قدسي حدیث کې فرمایلي دي: د بنی آدم د هر عمل نیک یو په لسه تر اووه سوه چنده پورې زیاتېږي، پرته له روژې څخه، چې هغه زما لپاره ده او ځان ښودنه پکې نه کیږي، نو زه پرې بدله ورکوم او زه یوازې د هغه د نیک عمل د ثواب په اندازه پوهېږم چې څو چنده یې کړم او نیک یې ورته څومره زیاتې کړم. بیا یې وفرمایل: (او روژه ډال دی) او د دوزخ له اور څخه د ساتنې، پوښ او قوي کلا ده؛ ځکه چې له خواهشاتو څخه ځان ساتل او ګناه کول دي او دوزخ په خواهشاتو پوښل شوی دی. (فإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث) نو ناوړه خبرې دې نه کوي لکه د کوروالي او مست په اړه او نه مطلق پوچه وینا دې نه کوي. (ولا يَصخب) او د جنګ جګړې پر مهال دې چغې نه وهي. (فإنْ سابّه أحد أو قاتله) نو که ورته (په روژه کې) ښکنځل وکړه او یا یې ورسره شخړه وکړه؛ نو ودې وایي چې: زه روژه دار یم؛ کېدی شي ترې منع شي، خو که هغه خامخا په رښتیا سره شخړه کوله نو تر ټولو (په لږ زور کارولو سره دې) منع کړي، لکه تېری کوونکی چې څنګه منع کیږي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم قسم یاد کړ او د هغه ذات په نوم یې لوړه وکړه چې نفس یې د هغه په واک کې دی چې د روژې له امله د روژه لرونکي خوله بدبویه کېدل به د الله تعالی په نیز د قیامت په ورځ د مشکو له بوی څخه ډېره خوشبو وي، او د هغو مشکو له کارولو څخه به ډېر ثواب ولري چې د جمعې په لمانځه او د ذکر په مجلسونو کې یې کارول سنت دي. روژه دار لره دوه خوشحال دي چې پرې به خوښ شي: کله چې روژه ماته کړي نو د لوږې او تندې په ختمېدو سره خوشحالیږي، او پدې چې د روژې د ماتولو اجازه ورکړل شوه، همدارنګه د روژې په بشپړولو او د عبادت په پای ته رسولو او دا چې رب یې پرې اساني راوسته او په راتلونکي کې د روژې نیولو توان ورکړي. (وإذا لقي ربه فرح بصومه) او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو د خپلې روژې په بدله او ثواب به خوشحاله شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee